# د انقـــلابی اخـــلاقو په اړه

لیکوال: هوشی مین

ژباړن: جانباز شرافت

د ملګري "هوشي مین"

د یو سلو دیرشمي کلیزي په مناسبت

# د انقــلابي اخـلاقو په اړه



ملګری هوشی مین – د ویتنام د خلګو لوی رهبر

ژباړه: جانباز شرافت

د ملګري هوشي مین د زیږېدني د ۱۳۰ کلیزي په مناسبت

انسان د خپل پیدایښت راهیسي، تل باید د ژوندي پاته کېدلو لپاره د طبیعت (وحشي حیواناتو، اقلیم . . .) په وړاندي مبارزه وکړي. په دې مبارزه کي د بریالیتوب د لاسته راوړلو لپاره، هر وګړی باید د ټولني په چوکاټ کي د ډېرو خلګو د ځواک سره غوټه وي. هغه په یوازي سر نه سي کولای، په ښه ډول سره طبیعت د انساني ژوند لپاره برابره کړي.

انسان باید د ژوندي پاته کېدلو او خواړو او پوښاک د برابرولو لپاره تولید وکړي. تولید هم ټولنیز دی، ځکه انسان په یوازیتوب سره تولید نه سي کولای. زموږ په پیر کي، چي د تمدن او انقلاب پیر دی، انسان باید د هر کار د مخته وړلو لپاره، د ټولني پر ځواک باندي زیاته تکیه وکړي. نن ورځ، تر بل هر وخت زیات، یو وګړی نه سي کولای، پر جلا لار ولاړ سي، بلکې باید د ټولني سره تړلی وي.

پر دې اساس وګړ پالنه، د ګډو او ټولنیزو اصولو پر خلاف ده. کولکټویزم (ټولنیز اصول) او سوسیالیزم به پرته له شکه بریالی کېږي او انډویډوالیزم (وګړ پالنه) به حتمن له منځه ځي.

تولیدي مناسبات او تولیدي ځواکونه د انسان د تفکر د ډول او ټولنیزو سیستمونو سره په تړلي ډول تکامل کوي او د بدلون سره مخ کېږي. موږ ټول پوهېږو، چې د پخوا څخه تر اوسه پوري تولیدي مناسبات د ونو د ښاخونو او ډبرینو تېشو څخه نیولې، بیا تر ننیو برقي ماشین آلاتو او اټومي انرژیو پوري تکامل کړی دی. ټولنیزو اړیکو هم د لومړي کمون، غلامۍ د دورې، فیوډالیزم او پانګوالۍ د پیرونو تکامل تېر کړی او نن ورځ نیم بشریت د سوسیالیزم او کمونیزم پر خوا ځي. هیڅ څوک نه سي کولای، د دغو پرمختګونو او تاریخ د حرکت مخه ونیسي.

د خصوصي مالکیت د را منځ ته کېدلو راهیسې، تر اوسه ټولنه په بیلابیلو طبقاتو باندي ویشل سوې ده. ځبېښاګګر طبقات او ځبېښاک کېدونکې طبقات او تولنیز تضادونه او طبقاتي مبارزه د هغه څخه راوتلې. لزوماً هر څوک په یوې یا بلې طبقې پوري اړه لري او هیڅ څوک نه سي کولای بې طبقې سي. په عین وخت کې، هر څوک د خپلې طبقې د ایډیالوژۍ نمایندګي کوي.

په پخوانیو ټولنو کې، ځمکوالو، پانګوالو او امپریالیستانو په ډېري بې رحمۍ سره، پر نورو ټولنیزو طبقاتو، په ځانګړې ډول کارګرانو او بزګرانو باندي ظلمونه کول. هغوی هغه ګډه شتمني، چې د ټولني په واسطه تولیدیدل؛ لوټل، په خپل خصوصي مالکیت باندي یې بدلول او په عیش و عشرت کې یې ژوند کوئ، خو په دوامداره ډول سره یې د [پاک لمنۍ او شرم] [آزادۍ] او [ډموکراسۍ] څخه خبري کولې.

ددا ظلمونو د له منځه وړلو لپاره زیار ایستونکې نور پاڅېدلي او انقلاب یې کړی، تر څو خپل ځانونه د ځبېښاک او غلامۍ د بندونو څخه آزاد کړي او پخوانی ټولنه، د انسان څخه د انسان د استثمار څخه پاکه کړي او په داسي یوې ټولني باندي یې بدله کړي، چې د ټولو زیار ایستونکو انسانانو لپاره نیکمرغي منځ ته راوړي.

د بریا لپاره باید مخکښ ترینه، پوه ترینه، قاطعترینه، منضبط ترینه او متشکلترینه طبقه، یعنې کارګره طبقه او پرولتاریایي ګوند، انقلاب رهبري کړي.

**انقلاب کول، زړه ټولنه په نوي او ښې ټولني باندي اړولو ته وایي، خو په عین وخت کې یوه ډېره درنه دنده هم ده، چې سخته، پېچلې، اوږده، ستونزمنه او نه ستړې کېدونکې مبارزه غواړي. دا درونډ بار، یوازې یو ځواکمن انقلابي انسان وړلای سي، تر څو وکولای سي دا لوړ رسالت ترسره کړي.**

**موږ ټولو د هغې روزنې څخه چې په زړې ټولنې کې مو ترلاسه کړې دي؛ تراوسه د هغه پاتې شونې په خپل فکر، چلند او عاداتو کې راسره دي. د زړو ټولنو بدترینه او خطرناکترینه پاته شونې وګړ پالنه ده، چې د انقلابي اخلاقو پر ضد باندې کړنه کوي.** د وګړپالنې لړه اغېزه هم وده کوي او پر انقلابي پاک لمنۍ باندې په تور ټکي بدلېږي او موږ ته اجازه نه راکوي، چې د زړه له کومې د انقلابي موخو لپاره مبارزه وکړو.

وګړپالنه یو ډېره تېر ایستونکې او خاینه پدیده ده، چې په ډېر مهارت سره انسان پر شاتګ ته اړ باسي او ټول پوهېږي، چې پر شاتګ، د وړاندې تګ په نسبت ډېر سخت دی. په همدې خاطر هم ډېره ګواښمنه ده.

د زړې تولنې د ناوړو اغیزو او پاته شونو څخه د خلاصون او د هغه پر ځای د انقلابي معرفت او پېژندنې د ځایناستې کولو لپاره موږ باید سخته مطالعه وکړو، زده کړه وکړو او خپل ځان اصلاح کړو، تر څو په دوامداره ډول سره وده وکړو. د داسې کار د نه کولو په صورت کې، موږ د ځمکې وهل کېږو، شاته پاتېږو او په پای کې به د مخ پر ودې ټولنې څخه جلا کېږو.

یوازې ښوونځی ته په تللو او زده کړه ائیزو ټولګیو کې په ګډون سره موږ نه سو کولای زده کړه وکړو او ځان اصلاح کړو. په انقلابي هلو - ځلو سره هم موږ دا کار کولای سو. **مخفي انقلابي فعالیت، عمومي غورځنګ، د مقاومت جګړه، د هیواد په شمال کې د سوسیالیزم اوسنۍ جوړېدونکې ودانۍ او د بیا ملي یووالي لپاره مبارزه، د انقلابي پېژندنې، شناخت او معرفت د ترلاسه کولو لپاره ډېري ښې ښوونځی دي.**

هغه انسانان چې د انقلابي شناخت او پاکۍ درلودونکي دي، هیڅکله د ستونزو او سختیو څخه نه بیرېږي، په چارو کې دوه زړې نه وي او شاته ګام نه ابږدي. هغوی هیڅکله د ګوند، انقلاب، کارګري طبقې، ملت او بشریت لپاره په خدمت کې د خپل ځان او ګټو د قربانولو لپاره یوه شبهه هم نه تم کېږي. دا د انقلابي اخلاقو یوه ډېره ښکاره بیلګه ده.

زموږ په ګوند کې، هر یوه ملګرو، تران فو، نګوجیانو، له هونګ فونګ، نګوین وان تو، نګوین تی مین خای او ډېرو نورو خپل ځان د ګوند او خلګو لپاره قرباني کړل او د ټولو خلګو د ګټو لپاره د ځانونو د تیریدنې ډېر ځلانده مثالونه ګرځېدلي. هغه خلګ چې د انقلابي اخلاقو او معرفت درلودونکي دي؛ ساده، عاجزه او د هر ډول سختیو او ستونزو سره د مخ کېدلو لپاره تیار وي. [د قربانۍ په صف کې اول او د امتیازاتو په صف کې آخر دریږي.]

موږ باید تل په دې فکر کې اوسو، چې څه ډول کولای سو، خپلې دندې او رسالتونه ترسره کړو، نه دا چې څه ډول وکولای سو تر ټولو زیاته ګټه پورته کړو. موږ باید د باټو ویشتلو او د خپلو پخوانیو لاسته راوړنو څخه د ویاړمن کېدلو، د ځانګړو امتیازونو د ترلاسه کولو، یا بوروکراټېزم د ودې، ځان ته کتنې او بداخلاقۍ څخه په مطلق ډول ډډه وکړو، ځکه دا د انقلابي اخلاقو اساسي برخې تشکیلوي.

**په لنډو کې ویلای سو، چې په انقلابي اخلاقو کې لاندې مطالب سته:**

- د خلګو، انقلاب او ګوند د ګټو لپاره د خپل ټوله ژوندانه قرباني کول. دا تر ټولو اړین ټکی دی.
- د ګوندي ډسپلین د تحکیم او د هغه د تګلارو د عملي کولو لپاره نه ستړې کېدونکې هلې – ځلې.
- د ګوند او زیار ایستونکو ګټې، تر خپلو شخصي ګټو لوړې ګڼل. د خلګو لپاره د زړه د کومې او ټول توان سره خدمت کول. د ګوند او خلګو لپاره تر ځان تېرېدونکې مبارزه او په دغو ټولو مواردو کې د ځان بیلګه کول.
- د مارکسیزم – لنینزم په زده کړه کې ټینګه هڅه کول او د ایډیالوژیکو معیارونو د لوړولو لپاره د ملګرو سره یو ځای، **د انتقاد او انتقاد د خپله ځانه** دوامداره ترسره کول.

هر انقلابي باید په ټینګه سره په دې پوه سي، چې زموږ ګوند د کارګري طبقې تر ټولو مخکښ او متشکله سازمان دی. اوسمهال، که د کارګري طبقې شمېر، ډېر لږ دی، خو د ودې په حال کې دی. په راتلونکې کې به کرنیزې تعاونۍ په ټول هیواد کې را منځته سي او بزګران به په کارګرانو واوړي. روښانفکران به د لاسي کار سره په ښه ډول آشنا سي او د فکري او لاسي کارکونکو ترمنځ توپیر به په کراره – کراره له منځه ولاړ سي. په پایله کې به د کارګرانو په تعداد کې زیاتوالی راسي. د هغوی ځواک به وده وکړي او په راتلونکې کې به خپل ځان او ټوله نړۍ بدله کړي.

یو انقلابي انسان باید په پوره وضاحت سره په دې باندې پوه سي او په پوره قاطعیت سره، د کارګري طبقې د دریځونو څخه دفاع وکړي، تر څو وکولای سي، د زړه له کومې، د سوسیالیزم او کمونیزم او پرولتاریا او ټولو زیار ایستونکو لپاره مبارزه وکړي. انقلابي شناخت او معرفت، ګوند او ولسونو ته ډېره وفاداري ده.

د ګوند تر رهبرۍ لاندې زموږ خلګ په ډېرې اتلولۍ سره جنګېدلې دي، استعمارکونکې او فیوډالان یې نسکور کړي او د هیواد شمال یې آزاد کړی دی. دا یو لویه بریا وه، خو انقلاب لا تراوسه پورې خپل پوره بریالیتوب ته نه دی رسېدلی. د ګوند اوسنۍ موخه، د بیا ملي یووالي او د یو سوله خوښونکي، متحد، خپلواک،

ډموکراټیک او وده کونکي ویتنام د جوړولو او د انسان څخه د انسان د ځبېښاک او د نوي ټولني د ودانۍ، چي د ټولو لپاره د نیکمرغۍ را منځته کونکي وي؛ لپاره مبارزه ده.

که څه هم زموږ صنایع لا تراوسه شاته پاته دي، خو د ودي په حال کي دي. د بریا لپاره، د هڅو په لړ کي، زموږ کارګران باید د لا زیات، چټک او سپما کونکي تولید لپاره سیالي وکړي، د کار قوانین وپېژني او د اړینو کارونو په مدیریت کي په فعالانه ډول برخه واخلي. موږ باید د غلا او رشوت په وړاندي مبارزه وکړو او زموږ کادرونه باید په پوره مانا سره، زیارایستونکي، سپما کونکي، صادق او د چارو سم مخته وړونکي وي او د کارګرانو سره په کار کي یو ځای سي.

زموږ د بزګرانو په منځ کي ځمکي وېشل سوي او د دوی د ژوندانه د یوې برخي په پرمختګ کي یې مرسته ورسره کړې ده، خو د تولید مناسبات لاتراوسه هم پراګنده او شاته پاته دي. په همدې خاطر، موږ تراوسه اضافه محصولات نه دي درلودلي او د ژوندانه وضعیت یوازي لږ ښه سوی دی.

**پر دې اساس انقلابي اخلاق، د ګوند د موخو د لاسته راوړلو او کارګري طبقې او زیار ایستونکو لپاره، صادقانه چوپړ ته وایي.** د ګوند ډېرو غړو او د کارګرو ځوانانو د اتحادیې ډېرو برخه والو او کادرونو دا دندي ترسره کړي دي، خو ټولو نه. دوی په تېروتني سره داسي فکر کوي، چي اوس استعمار کونکي او فیوډالان د هیواد په شمال کي پرځول سوي دي؛ نو زموږ بریا پای ته رسیدلې ده. په همدې خاطر هم دوی اجازه ورکوي، چي وګړپالنه وده پکښې وکړي، هغوی د تفریح او استراحت غوښتني کوي او ددې پر ځای چي د سازمان او ګوند لخوا ور سپارل سوي دندي ترسره کړي؛ خپل کارونه ترسره کوي. هغوی د لوړو مقامونو غوښتونکي دي، خو خپل مسئولیت نه قبلوي. **د دوی جنګیالیتوب، انقلابي مېړانه او ښې ځانګړتیاوي کرار – کرار کمزوري کېږي. هغوی دا هیروي، چي د یو انقلابي لپاره اصلي معیار د ګوند او انقلاب لپاره تر پایه پوري مبارزه ده.**

موږ باید دې ته پام وکړو، چي هغه بریاوي، چي تراوسه موږ ترلاسه کړي دي؛ په یوې اوږدې لاري کي لومړني ګامونه دي. موږ باید ډېر نور مخکي ولاړ سو، انقلاب باید نور پرمختګونه وکړي. که داسي ونه سي، موږ به شاته ولاړ سو او نه سو کولای لاسته راغلي بریاوي وساتو او تکامل ورکړو.

د سوسیالیزم پر خوا، د ګام اخیستلو لپاره موږ باید اوږده او سخته مبارزه ترسره کړو. موږ باید حرفوي انقلابي کادرونه ولرو، ځکه د انقلاب ضد دښمنان لاتراوسه ستړه.

**موږ درې ډوله دښمنان لرو:**

۱ – پانګوالي او امپریالیزم، چې زموږ تر ټول خطرناکه دښمنان دي.

۲ – پخواني عادتونه او دودونه هم زموږ بد دښمنان دي. هغوی په ټینګه سره هڅه کوي، د انقلاب د پرمختګ مخه ونیسي، خو موږ نه سو کولای هغوی په ځان کې وساتو، بلکې باید په ډېري هوښیارۍ او پام سره، د هغوی د سموني لپاره اوږد مهاله هڅې وکړو.

۳ – زموږ دریم دښمن وګړپالنه، چې خپله د وړې بورژوازۍ ځانګړتیا او د فکر ډول دی، په موږ هر یوه کې یې کمین نیولی او د کوچنۍ موکې په لټه ده، چې سر را پورته کړي. دا دښمن، زموږ د دوو نورو لومړني دښمنانو سره یو لاس دی.

**ددې مخې، په انقلابي اخلاقو کې، د هر ډول شرایطو لاندې د ټولو دښمنانو سره کلکه مبارزه، هوښیاري، تیاری او تسلیمیدلو او سرکښته کولو څخه ډډه کول راځي.** زموږ ګوند د سمې او یوځای رهبرۍ د سیاست سره کولای سي، کارګره طبقه او ټول زیار ایستونکي د سوسیالیزم پر خوا بوځي. دا ډول متحده راهبري، د ټولو غړو د فکري او عملي یووالي څخه سرچینه اخلي. د داسې یووالي پرته به موږ هغه بې خوند ارکسټر غوندې یو، چې د هرې خوا څخه یې یو بې سُر او تاله بږغ راځي او هغه مهال به موږ د پرګنو او ولسونو په رهبرۍ او انقلاب په سرته رسولو کې پاته راسو.

**د ګوند د غړو کړنې او خبرې، د انقلاب د اوږې یو ډېر دروند بار دی، ځکه پر ولسونو باندې زیاته اغیزه پریباسي.** د بیلګې په ډول: زموږ د ګوند او حکومت اوسنی سیاست، د کرنیزو تعاونیو لپاره، د کار د بدلولو د ډلو جوړول دي، تر څو کرنیزې چارې ښې مخته ولاړې سي، خو د ګوند او د کارګرو ځوانانو اتحادیې ځینو غړو د هغه سره د یو ځای کېدلو څخه ډډه کړې ده او د هغه د را منځته کولو او پیاوړتیا لپاره سمې هلې – ځلې نه کوي. هغوی د وګړپالني تر اغیز لاندې، د هر کار سره چې علاقه لري، هغه ته لاس اچوي او د ګوندي ډسپلین او ګوندي تشکیلاتو پر خلاف کړنې کوي. د هغوی کړنې، په حتمي ډول سره، د ګوند اعتبار او حیثیت ته ټکان ورکوي، د چارو مخه نیسي او د سوسیالیزم پرخوا، د پرمختګ په لار کې خنډونه جوړوي.

د ګوند ټول پلانونه او سیاستونه د ولسونو د چوپړ لپاره دي. نو د ګوند د یو غړي لپاره، انقلابي اخلاق دا ایجابوي، چې د دغو پلانونو په عملي کولو کې، د پوره زیار او هڅې سره، د ستونزو څخه د بېرې پرته کار وکړي او په پایله کې د ولسونو لپاره په یوې بیلګې باندې بدل سي. د ګوند هر غړی باید، خپل د ژمنتیا کچه او د

مسئولیت احساس د خلکو او ګوند په وړاندې زیات کړي. د وګړ پالنې څخه ډډه وکړي او په پوره قاطعیت سره د هغه پر وړاندې مبارزه وکړي. زموږ ګوند، د یوې ډلې، یا یوه وګړي، د شخصي ګټو نماینده نه، بلکې د کارګري طبقې او ټولو زیار ایستونکو خلکو د ګټو نماینده دی او په دې باندې ټول پوهېږي.

د ګوند یو غړی، د ګوند په نوم، د پرولتاریا او په ټوله کې د ټولو زیار ایستونکو د ګټو نماینده دی. پر دې اساس، دده ګټې هم د ګوند او پرولتاریا د ګټو سره یو ځای دي، نه د هغه څخه بهر. د ګوند لپاره بریا، د ګوند د غړو لپاره د بریا په مانا ده. هر څوک، چې هر څومره هوښیار هم وي، د ګوند او طبقې څخه جلا نه سي کولای، کوم څه لاس ته راوړي. **انقلابي اخلاق د یوه غړي لپاره، یعنې په هر ډول شرایطو کې، د ګوند ګټو ته، تر نورو ټولو شیانو لومړیتوب ورکول. که د ګوند ګټي، د هغه د ځاني ګټو سره په ټکر کې سي؛ نو پرته له شکه، دوهم باید د اول ځای ونیسي.**

د ګوند ځیني غړي، د وګړپالنې سره د یو ځایوالي په خاطر، تراوسه ګوند ته د خپلو چوپړونو ستاینې کوي او د منني غوښتونکي دي. هغوی د ځانګړي پاملرنې، درناوي، مقام او آزادیو غوښتونکي دي. که د هغوی غوښتنې ترسره نه سوې، د ګوند څخه بې زړه توریږي او په دوامداره ډول سره ددې څخه شکایت کوي، چې راتلونکې یې له لاسه وتلې ده. هغوی د ګوند څخه جلا سوي او د ګوند د ډسپلین او سیاستونو پر ضد تبلیغات هم کوي. ډېرو کادرونو او جنګیالیو د مخفي مبارزې پر مهال، خپل ځانونه قرباني کړي دي. ډېرو ملګرو د تولیداتو د زیاتوالي لپاره اتلولۍ کړي دي، **خو هغوی یو یې هم د ګوند څخه د منني، ستاینې او درناوي په تمه نه ول.**

زموږ ګوند ولسي ځانګړتیاوې او سلګونه زره غړي لري. زموږ د هیواد د خاصو شرایطو په خاطر، د ګوند ډېر غړي د وړې بورژوازۍ د طبقې څخه دي او په دې کې هیڅ د حیرانتیا ځای نسته. د کار په پیل کې، د ګوند ځیني غړي شاید ونه سي کولای په پوره ډول سره قاطع او پیاوړي واوسي، د دوی لید او د تفکر ډول شاید سم نه وي، خو په انقلاب او جګړو کې د هغه روزنې سره چې دوی لیدلې دي؛ په ټوله کې ښه مبارزین دي او ګوند او انقلاب ته وفاداره دي. دوی پوهېږي، د ګوند هر غړی ملګری، چې تېروتنه کوي، د ځانه سره ولسونه هم تېرباسي. پر دې اساس، دوی د خپلو ټولو تېروتنو د سمولو لپاره هم تیار وي. دا کار، دې ته اجازه نه ورکوي، چې کوچنۍ تېروتنې، په لویو تېروتنو واوړي. دوی په ډېر صداقت سره، **انتقاد او انتقاد د خپله ځانه** کوي، تر څو د ټولو د پرمختګ لپاره یې لار پرانیستې وي.

دا د **انقلابي اخلاقو** سره ورته ده. **د پټ فعالیت په اوږدې مودې کې، زموږ ګوند د استعمار کونکو د وحشیانه ټکوني او ډیرو نورو ګواښونو سره – سره، د هري ورځي په تېریدو سره لا پیاوړی کېدئ، وده یې کول او د مقاومت جګړه یې تر بریا پوري مخته وړل. دا، د انتقاد او انتقاد د خپله ځانه، د تېرې او پرې کونکي وسلې اغیزې وې.**

خو ځیني داسي ملګري هم سته، چي لا تراوسه نه دي توانېدلي وګړ پالنه له ځانه لیري کړي، ددې مخي څخه ډېر کبرجن او د ځانه راضي وي او تل د خپلو ورتیاوو په اړه ویاړ خرڅونه کوي. دوی په داسي حال کي چي خپله له نورو څخه انتقاد کوي، دا نه خوښوي، چي نور پر دوی انتقاد وکړي، یا د خپل انتقاد څخه تښتي او یا د جدیت او صداقت پرته چلند ورسره کوي. دوی له دې څخه ډارېږي، چي خپل حیثیت به له لاسه ورکړي، یا به یې شخصیت کښته راسي. هغوی د پرګنو نظرونو ته هیڅ پام نه کوي. **موږ د تېروتنو د شتون څخه نه؛ بلکې د هغو په بې رحمه او چټکي تصحیح کي د نه بریالي کېدلو څخه ډار لرو.** د تېروتنو د سمولو لپاره موږ باید د خلګو انتقادونو ته غوږ ونیسو او په صداقت سره له ځانه انتقاد وکړو. د داسي کار نه کولو پر مهال به موږ شاته ولاړ سو، چي د وګړپالني حتمي پایله ده.

**انقلابي اخلاق، یعنې د خلګو سره په یوه واحد جسم کي اتحاد، پر دوی باندي باور او د دوی نظرونو ته غوږ نیول. د ګوند غړي، کارګر ځوانان او کادرونه د خپلو کړنو او خبرو سره، د خلګو باور، درناوی او مینه خپلولای، هغوی د ګوند سره یو ځای کولای، متشکل کولای او سیاسي شعور ورکولای سي او داسي یې سره ټولولای سي، چي دوی په ډېري تلوسې سره د ګوند د سیاستونو او پلانونو د عملي کولو لپاره لاس په کار سي.**

دا هغه کار وو، چي موږ د انقلاب او مقاومت د جګړې پر مهال ترسره کړی، خو دا مهال وګړپالني زموږ ځیني ملګري را نیولي دي. دوی، ددې ادعاء سره چي هر څه یې زده کړي دي، د خلګو څخه جلا پاته سوي او د خلګو څخه د زده کولو څخه ډډه کوي او یوازینۍ هڅه یې دادده، چي خلګو ته یې ور وښیي. دوی د خلګو په منځ کي د سیاسي کار او تبلیغاتو د سمبالولو پر مهال د ځانه تزلزل ښیي او ډېر ژر د بورکراټیزم او امر ورکولو په ناروغۍ اخته کېږي. په پایله کي د خلګو په وړاندي خپل درناوی او باور هم دلاسه ورکوي.

دا مهال، زموږ د هیواد شمال د سوسیالیزم پر خوا ځي. دا د ملیونونو زیار ایستونکو انسانانو هیله ده. وګړپالنه د سوسیالیزم د ودانۍ پر وړاندي یو غټ خنډ دئ. په پایله کي، د سوسیالیزم لپاره بریا، د وګړپالني د له منځه وړلو لپاره د جدي مبارزې څخه جلا نه ده.

**د وګړپالني په وړاندي مبارزه، د ځاني ګټو د پښو لاندي کولو په مانا نه ده. هر څوک خپلي ځانګړتیاوي، هنرونه، کورنۍ او خصوصي ژوند لري. که د یوه وګړي، شخصي ګټي، د ټولو خلګو د ګټو سره په ټکر کي را نه سي؛ هیڅ زیان نه لري، خو موږ باید دا په پام کي ولرو، چي هر څوک یوازي په سوسیالیستي ټولني کي کولای سي، خپل خصوصي ژوند او ځانګړتیاوي ښې کړي او مثبت ټکي وروزي.**

د وګړو د حقوقو او د دوی د رضایت لپاره، د سوسیالیزم او کمونیزم ځای ته، بل هیڅ نظام هم نه سي رسېدلای. په هغه ټولنه کي چي د ځبېښناګرو طبقاتو تر واکمنۍ لاندي ده، یوازي د څو کسانو ګټي خوندي کېږي، خو د زیار ایستونکو کوچنۍ ګټي هم له منځه ځي، خو په سوسیالیستي او کمونستي ټولنو کي چي زیار ایستونکي خپله خپل د ځان پالونکي وي، هر څوک د ټولني یو برخه دی او په خپل نوبت سره، ټولني ته خدمت کوي. په همدې خاطر، د یوه وګړي ګټي، د ټولي ټولني د ګټي سره تړلي وي، او د هر یوه لاس ته راوړل، د بل د لاس ته راوړل د ځانه سره لري. **اوس که دوی دواړه، په ټکر کي سي، انقلابي اخلاق، د ټوله ائیزو ګټو لپاره، د شخصي ګټو قرباني کول غواړي.**

په انقلابي غورځنګونو کي ملیونونه خلګ وي. انقلابي فعالیت هم زرګونه ستونزي او ګواښونه لري. پر سختو شرایطو د برلاسي او په تضادونو باندي د سمي پوهېدني او بیلابیلو مسایلو د سم حل کولو لپاره موږ باید د مارکسیزم – لنینیزم بیرغ ته لاسرسی ولرو. یوازي ددې لاري موږ کولای سي، پیاوړي انقلابي اخلاق ولرو، پر خپلو دریځونو باندي کلک ودرېږو، خپله سیاسي او تیوریکه کچه پورته کړو او هغه دندي چي ګوند راته سپارلي دي؛ عملي کړو.

د مارکسیزم – لنینیزم زده کړه، د مسایلو سره د ځان او نورو د چلند د څرنګوالي او په نړۍ شموله واقعیتونو باندي د پوهېدلو لپاره ډېره اړینه ده. موږ باید د عمل د دریځ څخه پر دې تیوریانو باندي پوه سو.

**خو زموږ ځیني ملګري چي په یو مخیزه ډول مارکسیستي کتابونه حفظوي او داسي خیال کوي، چي نور یې مارکسیزم – لنینیزم تر نورو ټولو ډېر زده دی، خو کله چي د ځانګړو عملي مسایلو سره مخ کېږي، یا د ځانه میکانیکي حرکت ښيي، یا حیرانېږي.** د هغوی خبري، د هغوی کړنو ته ورته نه دي. هغوی مارکسیستي

– لنینستي کتابونه لولي، خو د هغه په انقلابي او پرولتاري روح باندي ځان نه پوه کوي. هغوی یوازي غواړي خپل معلومات نورو ته وښيي، نه دا چي هغه په انقلابي عمل کي وکاروي. دا هم د وګړپالني یو ډول دی.

**وګړپالنه، سلګونه ډوله نوري ناروغۍ هم را منځته کوي: بوروکراټیزم، امر ورکول، سکټاریزم، سوبژکټویزم (د مسایلو سره ذهني چلند) فساد او نور. وګړپالنه، خپل د بندي لاسونه او سترګي ور تړي او د هغه ټول حرکتونه او کړني د درناوي او مقام د لاسته راوړلو د هیلي پر خوا بیایي.**

دا مهال، په شمال کي د سوسیالیزم د ودانولو لپاره د ګوند او خلګو دنده داده، چي تولید د زیاتوالي او سپما لپاره هڅه وکړي، کرار – کرار سوسیالیزم ته مخه کړي او هغه د هیواد د بیا یو ځای کېدلو لپاره په یو پیاوړي سنګر بدل کړي. دا یو ډېره لویه دنده ده. پرېږدئ، چي د ګوند او کارګرو ځوانانو د اتحادیې ټول غړي او کادرونه دا پایلي ته ورسېږي، چي خپل ژوند د خلګو او ګوند چوپړ ته ځانګړی کړي.

**انقلابي اخلاق د آسمانه نه راځي، بلکې د ورځنیو مبارزو او هڅو په لړ کي تکامل کوي.**

**یو انقلابي انسان ته، د سوسیالیزم د جوړولو او بشریت د آزادۍ لپاره تر چوپړ، بل به څه ډېر نیکمرغه او خوشاله کونکی وي؟**

زه هیله لرم، چي د ګوند او کارګرو ځوانانو د اتحاددېټول غړي د پرمختګ لپاره ټینګه مبارزه وکړي.

پای

ملګری هوشي مین